


# په کالیفورنیا کې پلور کول

## د کالیفورنیا د مالیې او فیس د اداري پیژندنه

د California Department of Tax and Fee Administration CDTFA کالیفورنیا د مالیې او فیس ا داره (CDTFA) په کالیفورنیا کې د مالیې او فیس 37 پروګرامونه اداره کوي. زموږ هدف دا دی چې په منصفانه او ښه توګه د عایداتو راټولولو له لارې د کالیفورنیا د اوسیدونکو ژوند ښه او آرامه کړو، چې دغه عایدات زموږ په عامه اړین خدمتونو پوره کولو کې کومک کوي. موږ تاسو او ستاسو نوي سوداګرۍ ته ښه راغلاست وایو. زموږ ایالت د متشبثینو او سوکاله کارونو بډایه تاریخ لري او موږ ستاسو لپاره هم ورته بریالیتوب غواړو. دا خپرونه د یو ګړندي لارښود په توګه کار کوي ترڅو ځینې هغه قانوني اړتیاوې او شرایط وړاندې کړي چې په تاسو باندې هغه وخت پلي کیږي کله چې تاسو په کالیفورنیا کې پلور کوئ. د ایالت د سوداګرۍ مقررات او د مالیې قوانین پیلچي وي او دا لارښود یو پراخه لارښود نه دی. موږ دلته د دې لپاره موجود یو چې د سوداګرۍ د مالیې اړوند هغه پوښتنو ته ځواب ورکړو، چې تاسو یې لرئ. زموږ ګڼ شمیر کارمندان دانګلیسۍ سربېره په نورو ژبو هم خبرې اترې کولی شي، او که تاسو دمخه غوښتنه وکړئ، نو موږ به د دې ډاډه کولو خپله پوره هڅه کوو چې داسې ځوک ستاسو د مرستې لپاره موجود وي، کوم چې ستاسو په ژبه پوهیږي.

### د کالیفورنیا د پلورونکي اجازه لیک

د کالیفورنیا د پلورونکي اجازه لیک تاسو ته اجازه درکوي چې په عمده یا پرچون کچه توکي وپلورئ. کله چې تاسو زموږ سره راجستر شئ، تاسو به د پلوورنکي اجازه لیک ترلاسه کړئ. معمولاً، په کالیفورینا کې په قانوني توګه د پلورنې او/یا اجارې، موټرو یا نورو توکو د پلورنې لپاره تاسو باید د پلورونکي اجازه لیک ترلاسه کړئ. که چیرې تاسو د 90 ورځو څخه د ډیر وخت لپاره پلور نه کوئ، لکه څنګه چې ډیری وختونه د کرسمس ونې یا هنر د میلې پلور ترسره کیږي، نو تاسو باید د موقتي پلورونکي د اجازه لیک لپاره غوښتنه وکړئ.



### د پلورونکي اجازه لیک په پرتله د بیا پلور سند یا تصدیق نامه

د پلورونکي اجازه لیک او د بیا پلور تصدیق نامه دوه مختلف شیان دي. د پلورونکي اجازه لیک تاسو ته دا فرصت درکوي چې په کالیفورنیا کې پلور وکړئ، په داسې حال کې چې د بیا پلور تصدیق نامه تاسو ته دا فرصت درکوي چې هغه توکي واخلئ کوم چې به تاسو خپل سپلایرانو ته د مالیې ادا کولو پرته پلورئ. کله چې تاسو د پلورونکي اجازه لیک ترلاسه کړئ، تاسو کولای شئ چې خپل سپلایرانو ته د بیا پلور تصدیق نامې ورکړئ ځو هغه توکي واخلئ چې تاسو یې د سوداګرۍ په عادي جریان کې پلورئ. د پلورونکي تصدیق نامه د اخیستلو اجازه نه ده. تاسو به بیا هم په هغه ټولو توکو مالیه ادا کوئ چې تاسو یې کاروئ، پرځای د دې چې په خپله سوداګرۍ کې یې خرڅ کړئ (لکه د دفتر توکي).

### د پلورونکي د اجازه لیک لپاره عریضه کول

د پلورونکي د اجازه لیک لپاره عریضه کول وړیا دي. زموږ د وېب پاڼې د آنلاین خدمتونو برخې ته په دې ادرس په مراجعې کولو سره تاسو کولی شئ چې د پلورونکي د اجازه لیک لپاره عریضه وکړئ *www.cdtfa.ca.gov* د خپل غوښتنلیک د بشپړولو لپاره به تاسو اړتیا لرئ چې د خپلې سوداګرۍ په اړه معلومات چمتو کړئ، چې په دې کې د بانک د حساب جزیات او تخمیني عایدات چمتو کول شامل دي. که تاسو خپله سوداګري اخیستلې وي، نو تاسو به اړتیا لرئ چې د مخکیني مالک نوم او د هغه د CDTFA د پلورونکي د اجازه لیک شمیره چمتو کړئ. که تاسو لارښوونې ته اړتیا لرئ، په مهربانۍ سره زموږ د مشتري د خدمت مرکز ته په 1-800-400-7115 (CRS:711) زنګ ووهئ، او د CDTFA نماینده به په خوښۍ ستاسو سره مرسته وکړي. کله چې تاسو په الیکترونیکي توګه غوښتنلیک بشپړ کړئ او وسپارئ، نو بیا کولی شئ چې د خپلې سوداګرۍ په ځای کې د ښودنې لپاره د خپل پلورونکي اجازه لیک چاپ کړئ. تاسو همدغه راز کولای شئ چې په حضوري توګه د CDTFA محلي دفتر ته په تللو د پلورونکي د اجازه لیک لپاره عریضه وکړئ. تاسو د دفتر د تلیفون شمیرې او ادرسونه په خپله وېب پاڼه په دې ادرس موندلی شئ. *www.cdtfa.ca.gov/office-locations*

### د مالیې د تصفیې د سند غوښتنه

کومه سوداګري چې تاسو اخلئ، د هغې د خرڅلاو یا د پاتې شوي مالیې څخه د ځان د ساتنې لپاره تاسو باید موږ ته لیک واستوئ او د مالیې د تصفیې د سند غوښتنه وکړئ. تاسو باید په خپل لیکل شوي غوښتنلیک کې لاندې جزیات ورکړئ:

- د اخیستونکي نوم، ادرس او د تلیفون شمیره.
- د پلورونکي نوم، ادرس او د تلیفون شمیره.
- د سوداګرۍ ادرس.
- د پلورلو یا اخیستلو د تړون د سند کاپي چې د اخیستنې د نرخ مقدار په کې ورکړل شوی وي.
- د ضامن شرکت نوم او د تضمین شمیره، که د تطبیق وړ وي.
- د سوداګرۍ د اخیستلو نیټه.

## د پلورونکي د اجازه لیک لرونکو مسؤلیتونه.

کله چې تاسو د پلورونکي اجازه لیک ولرئ، تاسو باید:

- په دې پوه شئ چې د پلورنې او د مالیې قوانین څنګه ستاسو د سوداګرۍ په فعالیتونو باندې پلي کیږي.
- مناسب ریکارډونه وساتئ او په مغې کې د خپل خرڅلاو او اخیستلو حساب ثبتوئ (لاندې ریکارډونه ساتل وګورئ).
- ځانګړي پلورونه ثبتوئ او زموږ سره د آنلاین مالیې تادیه کولو څخه استفاده وکړئ. کله چې تاسو د خپل پلورونکي د اجازه لیک لپاره آنلاین راجستریشن بشپړ کړئ نو د اټکل شوي پلور پراساس به تاسو ته میاشتنی، درې میاشتنی یا کلنی مهالویش د بشپړولو لپاره درکړل شي.
- په خپل پلور او پیرود باندې د پلور یا کارولو مالیه تادیه کړئ.

## ریکارډونه ساتل

تاسو باید له ځان سره ریکارډونه وساتئ ترڅو لږ تر لږه تر څلورو کالو پورې دمالیې دقیق مقدار وښایئ. کوم ریکاډونه چې تاسو باید له ځان سره وساتئ، د مغې په بیلګو کې دا شامل دي:

- د حساب کتابونه چې په کې ستاسو د عایداتو او لګښتونو خلاصه چمتو شوې وي، لکه ستاسو عمومي لیجر او ژورنالونه. دا معلومات ممکن په الکترونیکي بڼه ذخیره کړل شي.
- هغه اصلي ریکارډونه چې ستاسو د حساب په کتابونو کې درج شوي معلومات حمایه کوي، لکه بیلونه، رسیدونه، انوایسونه، د کار آرډرونه، تړونونه یا نور اسناد.
- هغه اسناد او ورک شیټونه چې ستاسو د مالیې ورکولو لپاره چمتو شوي وي.
- د بیا پلورنې هغه تصدیق نامې چې تاسو له خپلو مشتریانو څخه قبول کړې دي.

## ستاسو په ریکارډونو کې باید دا معلومات شامل وي:

- د ټولو سوداګریزو عایداتو څخه ترلاسه شوي ناخالص رسیدونه، چې په کې د سوداګریزو توکو پلور او اجارې او هغه عایدات شامل وي چې تاسو یې د مالیې څخه معاف ګڼلی شئ.
- هغه ټول تخفیفونه چې ستاسو د مالیاتو په بیرته ستنیدو کې ادعا شوي یې.
- د ټولو اخیستل شوي توکو د اخیستنې نرخ.

## ستاسو د سواګرۍ لپاره اضافي شرایط

د پلورونکي د اجازه لیک لپاره د راجستر کیدلو سربیره، تاسو اړتیا لرئ چې د هغه نورو مالیاتو او فیس د پروګرامونو لپاره راجستر شئ کوم چې موږ اداره کوو (د مثال په توګه، د کالیفورنیا ټایر فیس، د بریښنایي فاضله بیاکارونې فیس یا د سګرټ او تمباکو د جواز پروګرام). تاسو باید د خپلې سوداګرۍ د چلولو لپاره نورو جوازونو، اجازه لیکونو یا اسنادو ته اړتیا ولرئ. د خپلې سوداګرۍ په اړه د مناسب اجازه لیک د موندلو لپاره د CalGold وېب پاڼه www.calgold.ca.gov یو ښه وېب پاڼه ده. د سوداګرۍ خونې، د اقتصادي پراختیا سازمانونه، او سوداګریز سازمانونه هم د معلوماتو ښه سرچینې دي. ډیری وختونه د ښار یا هیواد د سوداګرۍ جواز ورکولو څانګه کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي، یا تاسو کولی شئ موږ ته د مرستې لپاره زنګ ووهئ.

## د مالیه ورکونکو د حقونو مدافع

د کالیفورنیا د مالیه ورکوونکي په توګه، تاسو ډیری حقونه لرئ، لکه د محرمیت حق، د عادلانه چلند حق، او زموږ د اخیستل شوي اقداماتو پرضد د اپیل حق. که تاسو په CDTFA کې د عادي چینلو له لارې د اندیښنو په حل کولو کې مرستې ته اړتیا لرئ، یا که تاسو غواړئ چې زموږ لخوا د اداره شوي هر ډول مالیې یا فیس د پروګرامونو په اړه د خپلو حقونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، تاسو کولی شئ زموږ د مالیه ورکونکو د حقونو مدافع دفتر ته بې له کوم لګښته په 1-888-324-2798 زنګ ووهئ.

## د نورو معلوماتو لپاره

که تاسو د ترجمان مرستې ته اړتیا لرئ، لطفاً خپل د CDTFA محلي دفتر ته زنګ ووهئ. که تاسو غواړئ نو خپل ترجمان هم راوستلی شئ. موږ به خپله پوره هڅه کوو چې په څرګند ډول ستاسو سره خبرې اترې وکړو. که تاسو په دې اړه سپارښتونه لرئ، چې موږ خپل خدمات څنګه نور ښه کولی شو، لطفاً موږ ته خبر راکړئ.

په دې خپرونه کې د قانون او پلي کیدونکي مقرراتو لنډیز چمتو شوی او هغه وخت د تطبیق وړ دي کله چې دا خپرونه ولیکل شوه. مګر، ښایي له هغه وخت راهیسې په قانون یا مقرراتو کې بدلونونه رامنځته شوي وي. که چیرې د دې خپرونې د جزیاتو او قانون ترمنځه څه توپیر موجود وي، نو پریکړه به د دې خپرونې نه بلکې د قانون پراساس کیږي.

